مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۹ د زمري ۲۷مه | د ۲۰۲۰ د اګسټ ۱۷مه | ۵۸۲یمه ګڼه

# له جګړې ستړی ولس او نامعلومه سوله؛

## د طالب زندانیانو د خوشي کولو په برخه کې نوي خنډونه جوړ شوي




ولاية
۴ مخ

## فارياب

غـرب او خراسـاني جغرافيـه ليكوونكـو دا ولايـت پـه فيريـاب، پاريـاب او باريـاب بنـو هـم ليـكلى دى. پـه لومړنيـو شـپړو اسـلامي پېړيـو كـې دا ولايت د خراسـان له مشـهورو او كرنيزو ولايتونـو څخـه شـمېرل كېـده او پـه څلورمـه پېړۍ كـې لـه جوزجـان سره يـو ځـاى د نعمتونـو د ښـار او د سـوداګريزو كاروانونـو لار ګڼـل كېـده.



## کانونو وزارت: په جوزجان کې د ګازو دویمه څاه هم ګټې اخیستنې ته چمتو شوه



د کانونو او پټرولیم وزارت وايي چې د جوزجان ولایت په یتیم تاق سیمه کې د طبیعي ګازو د ۳٦ نمبر څاه کیندنې کارونه بشپړ شوي او د استخراج لپاره چمتو شوي ده.

د یاد وزارت په خبره، دا د کانونو او پټرولیم وزارت تر مدیریت لاندې د ګازو د څاه دویمه کیندنه ده، چې نږدې ۴۰ کاله وروسته په هېواد کې په بریالیتوب سره ترسره کېږي. یاد وزارت زیاتوي، وړاندې تر دې هم د روان کال په پیل کې په همدې سیمه کې د طبیعي ګازو د یوې څاه کارونه په بریالیتوب سره بشپړ او ګټه اخیستنې ته وسپارل شوه. د کانونو او پټرولیم وزارت دغه راز وايي چې د دغو دوو څاګانو د طبیعي ګازو له استخراج سره به په ۲۴ ساعتونو کې د افغان ګاز تولیدي ظرفیت شاوخوا ۳۰۰ زره متره مکعب ته لوړ شي.

ولې د بندیانو خلاصون ځنډېږي؟
۲ مخ

شکست امریکا در تعین معادلات جهانی
۲ مخ

د سولې اړوند پرمختګونه، ولسي غوښتنې، فرصتونه او خنډونه
۳ مخ


## بولټن: ښايي ټرمپ د امریکا تر ټاکنو مخکې خپل ټول ځواکونه له افغانستانه وباسي

د امریکا د ملي امنیت پخوانی سلاکار جان بولټن وايي، ټرمپ ښايي تر ولسمشرۍ ټاکنو مخکې خپل ځواکونه له افغانستانه وباسي.

بولټون له یوې اسپانیایي خپرونې سره په تازه مرکه کې ویلي، ټرمپ د امریکایانو د زړونو ګټلو لپاره دوه انتخابه لري؛ یا به تر ټاکنو مخکې خپل ټول سرتېري له افغانستانه وباسي او یا به له ناټو ترونه ووځي. بولټون د خپلو خبرو پر دوام دغه راز ویلي، ښايي ټرمپ د روان کال د نومبر میاشتې په دریېمه (د امریکا تر ټاکنو مخکې) له ناټو څخه د امریکا وتل اعلان کړي. هغه زیاته کړې، تر اوسه چې ټاکنو ته درې میاشتې وخت پاتې دی، ډیموکراټانو ته په کار ده چې وضعیت د ځان په ګټه راوګرځوي. د یادونې ده چې تر دې وړاندې ټرمپ ویلي وو چې له ناټو د امریکا د وتلو غوښتونکی نه دی، خو متحدین باید خپله برخه مالي مرستې ورکړي.

د بولټن دا څرګندونې داسې مهال دي چې له طالبانو سره د شوې هوکړې له مخې، امریکا تر راتلونکي کال پورې له افغانستان څخه خپل ټول سرتېري وباسي چې د ټرمپ دغه اقدام بېلابېل غبرګونونه هم راپارولي دي. ډېری امریکایان پر دې باور دي چې په افغانستان کې د امریکا جګړه بې ګټې ده او ټرمپ دې له دغه هېواده خپل ټول سرتېري راوباسي.

## خلیلزاد: د سولې بهیر دې ګړندی او بین الافغاني خبرې پیل شي



۲ مخ

## نیروی های امنیتی افغان در امتداد خط فرضی دیورند تمرینات گسترده نظامی را اجرا کردند



نیروهای ارتش افغانستان دیروز در امتداد خط فرضی دیورند، در ولسوالی سپین بولدک ولایت کندهار، تمرینات نظامی اجرا کردند.


این نیروها از طیاره‌ها، تانک‌ها، وسایط زرهی و جنگ‌افزارهای سنگین کار گرفتند و توان هوایی و زمینی شان را به رخ کشیدند.

جنرال یاسین ضیا، لوی درستیز افغانستان هنگام دیدار از این تمرینات نظامی به نیروهای ارتش دستور داد که به هرگونه تجاوز بر قلمرو کشور پاسخ بدهند: «این بار تطبیقات است بخاطر این‌که ما بفهمیم مشکلات ما در کجاست... ما نقاط قوت خود را برای دفاع از این سرزمین تقویه می کنیم.»

این تمرینات نظامی چند هفته پس از آن انجام می‌شود که حکومت افغانستان از کشته و زخمی شدن نزدیک به صد تن در حمله‌های موشکی نظامیان پاکستانی بر سپین بولدک خبر داده بود. نیروهای ارتش که در این تمرینات نظامی شرکت کرده‌اند، هشدار می‌دهند که هر آن آماده استند در برابر تجاوز بیرونی، از خاک کشور دفاع کنند.

شریف‌الله، فرماندهٔ کندک چهارم نیروهای مرزی افغانستان گفت: «ده بار پاسخ حمله‌ها را داده‌ام و صدبار دیگر هم شکست شان می‌دهم.» شاهین، سرباز ارتش نیز افزود: «من ۲۴ ساعت آماده‌ام و از خاک خود دفاع کنم.» شمار بزرگی از باشنده‌گان ولسوالی سپین بولدک نیز برای تماشای این تمرینات نظامی و پشتیبانی از نیروهای امنیتی کشور، در محل برگزاری این تمرینات آمده بودند.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریـــځ

### ولې د بندیانو خلاصون ځنډیږي؟

د طالب بندیانو په خوشې کولو کې ځنډ د دې سبب شوی چې د سولې بین الافغاني خبرې پیل نه شي. له دې سره په ځینو سیمو کې د جګړو او نښتو رپوټونه هم ورکړل شوي دي. ویل کېږي چې فرانسې او استرالیا د افغانستان او امریکا له دولتونو غوښتي چې هغه طالب بندیان خوشې نه کړي چې د دغو هېوادونو د ځواکونو او وګړو په وژلو کې ښکېل دي. که څه هم د دغو طالب زندانیانو شمېر له شپږو تر لسو کسانو پورې ښودل شوی، خو حکومت نه یوازې دا چې دغه بندیان نه خوشې کوي، بلکې تر دریو سوو زیات نور هغه طالب بندیان هم نه خوشې کوي چې د سولې مشورتي لویې جرګې یې د خوشې کولو پرېکړه او تایید کړي وو.

څو اساسي پوښتنې شته چې په ځوابولو سره یې ښکاریږي چې دا ډول خبرې یوازې د پلمې په توګه کارول کېږي او اصلاً په ارګ کې واکمن چارواکي نه غواړي چې بین الافغاني خبرې پیل شي. تر ګردو لومړۍ پوښتنه دا ده چې که ستونزه یوازې د هغو څو طالبانو په اړه وي چې استرالیا او فرانسې یې د نه خوشې کولو غوښتنه کړې ده، نو بیا ولې حکومت له څلورو سوو بندیانو څخه څه باندې درې سوه نور بندیان لا هم په بند کې ساتي. حکومت دې نور بندیان خوشې کړي او د لانجمنو څو کسانو په اړه پرېکړه دې د امریکا او طالبانو ترمنځ وروستۍ پرېکړې ته پرېږدي. اوس خو حکومت د شپږو کسانو په پلمه د څه باندې درې سوو بندیانو خوشې کول ځنډولي چې دا په هېڅ ډول د توجیه وړ نه ده. حکومت په دې اړه خلکو ته وضاحت هم نه ورکوي او نه وایي چې ولې د دغو بندیانو خوشې کول ځنډوي او ولې په دې اړه د جرګې پرېکړې او غوښتنې ته درناوی نه کوي.

له بله اړخه کله چې په افغانستان کې د سولې او جوړجاړي خبره وي او زرګونه هغه طالبان خوشې کېږي چې جګړه یې کړې ده او امنیتي ځواکونه او ښایي عام وګړي یې وژلي وي، نو بیا د بهرنیانو وینې ته ولې د افغان تر وینې ارزښت ورکول کېږي. دا سمه ده چې له نړیوالو سره د اړیکو بحث شته، خو هېڅکله باید د افغان وینه د بهرني د وینې څخه کمه ونه ګڼل شي. کله چې زرګونه طالبان خوشې کېږي، حکومت باید د استرالیا او فرانسې له چارواکو سره خبرې وکړي او قانع یې کړي چې دا کسان هم باید خوشې شي. که خبره له قناعت څخه ووځي، بیا هم حکومت ته لاره شته او هغه دا چې د افغانستان سوله او مصلحت د فرانسې او استرالیا تر خپګان او خوشالۍ مهم دی. له همدې امله باید دا بندیان خوشې شي چې د سولې خبرو ته لاره هواره شي.

له بده مرغه په کابل کې چارواکي نه یوازې د سولې پر وړاندې د شته خنډونو د له منځه وړلو نیت او اراده نه لري، بلکې هڅه کوي چې خنډونه پیدا کړي او آن که بل څوک هم خنډ پیدا کوي، دوی ترې ګټه اخلي او د بین الافغاني خبرو پیل ځنډوي. د اندېښنې وړ دا ده چې له دې امله جګړه غځېږي او هره ورځ پکې افغانانو قرباني کېږي او خلک دردیږي، هغه درد چې په ارګ کې چارواکو نه احساس کړی او نه یې احساسوي.

# افغانستان او د نړیوالو مشترکو سیندیزو حوزو اړوند د ملګرو ملتونو د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون؛ فرصتونه او اندېښنې

تحقیق: برکت الله آریوبي

**درېیمه برخه:**

**د معقولانه او منصفانه ګټې اخیستنې اصل:**

لکه څنګه چې مخکې مو ذکر کړل د کنوانسیون ۵مه ماده وایي: «د نړیوالو ګډو سیندیزو حوزو ذینفع هېوادونه له دې حوزو څخه په معقول او منصفانه توګه ګټه واخلي» (کنوانسیون، ۱۹۹۷). په حقیقت کې د کنوانسیون ۵مه ماده د دولتونو اساسي وظایف بیانوي چې څه ډول له ګډو سیندیزو حوزو څخه ګټه واخلي. د دې مادې له مخې دولتونه له پوله تیرېدونکو اوبو څخه په متناسبه توګه ګټه اخلي او دا چاره دا مانا لري چې یو دولت سره له دې چې د اوبو له سهم څخه په معقوله توګه ګټه اخلي، له بل لوري اړ دی چې له خپلو حقونو څخه تجاوز ونه کړي او یا نور هېوادونه له اړونده حوزې د اوبو ګټې اخیستنې څخه محروم نه کړي. اوس مسئله دا ده چې د معقولانه او منصفانه په تشریح او تعمیم کې کوم فکتورونه شامل دي؟

د «منصفانه او معقولانه ګټې اخیستنې شرایط او عناصر په ٦مه ماده کې بیان شوي دي. د دې مادې له مخې د «معقولانه او منصفانه» قاعدې عناصر له لاندې عواملو څخه تشکیل دي:

جغرافیایي،هایدروګرافیکي،هایدرولوژیکي، اقلیمي، ایکولوژیکي او نور طبیعي عوامل؛

د ذینفع هېوادونو اقتصادي او اجتماعي اړتیاوې؛

هر یو ذینفع هېوادونو کې د اړوند اوبو منابعو پورې تړلی نفوس؛

د یو دولت د ګټې اخیستنې اغېز پر بل دولت؛

په سیندیزه حوزه کې موجوده او بالقوه ګټې اخیستنې په پام کې نېول؛

د اړوند سیندیزې حوزې اوبو منابعو څخه حمایت، حفاظت یې او اقتصادي والی یې او د هغو مصارفو په نظر کې نیول چې د ورته تدابیرو لپاره پکاریږي؛

د معادل ارزښت لرونکي بدیل موجودیت د موجوده او یا پلان شوې ځانګړنې څخه په ګټه اخیستنې؛

یا په بل عبارت، افغانستان که وغواړي پوه شي چې له آمو سیند څخه یې ګټه اخیستنه د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون له مخې «معقولانه» او « منصفانه» ده که نه، افغانستان باید له نوموړي سیند څخه خپله ګټه اخیستنه د پورتنیو ۷ عواملو پر اساس وارزوي او وګوري چې آیا پورتني موارد د افغانستان او نورو اوبیزو ګاونډیو له لوري د تطبیق وړ دي که نه.

د پام وړ ضرر نه رسول:

د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون دولتونه ملزموي چې د نړیوالو ګډو سیندیزو حوزو پر سر پرتو هېوادونو ته د «پام وړ ضرر» ونه رسوي. دا په دې مانا چې د یو دولت له لوري د اوبو له منابعو څخه ګټه اخیستنه؛ بل دولت ته په ضرر نه رسولو پورې مشروطه ده. په بل عبارت، که چیرې په بر کې پروت یو هېواد وغواړي د پوله تیریدونکو اوبو پر سر بند جوړوي یا نوې ګټه اخیستنه کوي او یا موجوده ګټه اخیستنه کې زیاتوالی راولي، همدا دولت دنده لري چې نورو دولتونو ته صدمه ونه رسوي. لیکن ستونزه دا ده چې د پام وړ ضرر نه رسونې مفهوم ګنګ او مغلق دی. لږ تر لږه استفاده کوونکی هېواد باید «لازم تدابیر» ولري، څو بل هېواد ته ضرر ونه رسوي. په دې مفهوم چې یو هېواد باید د ګټې اخیستنې په وخت کې «نهایت هڅه او کوشش» وکړي چې نورو هېوادونو ته د ضرر رسیدو مخنیوی وکړي. دولتونه په دې برخه کې دنده لري چې نهایي هڅه او کوښښ وکړي چې د اوبو له منابعو خپل سهم څخه ګټه اخیستنې په وخت کې نورو هېوادونو ته صدمه ونه رسوي. اوس که چیرې یو هېواد سره له هڅو او مقتضی اجراآتو بیا هم بل هېواد ته صدمه ورسوي؛ ګمان کیږي چې د صدمه لیدونکي دولت پر وړاندې به کوم قانوني مکلفیت ونه لري.

د پام وړ ضرر نه رسولو په اړه د چارو کارپوهانو او څېړونکو ډېر آثار چاپ کړي چې دغه اصل یې له مختلفو وجوهاتو څېړلی، البته دلته یې نور جزیات لازم نه دي.

له دې ټولو سره سره، که چیرې په عمیقه توګه دواړې پورتنۍ مادې وارزول شي او همدا راز که چیرې د نړیوالو حقوقو کمېسیون مقدماتي کارونو ته مراجعه وشي، جوتیږي چې د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون د پوله تیریدونکو اوبو په اړه یوازې اصول او کلي چوکاټ ترسیموي؛ جزیات یې په هغو دولتونو پورې اړوند دي چې د خپلو او سیندیزو حوزو ځانګړنو ته په کتو د مذاکراتو او تفاهم له لارې توافق ته ورسیږي.

**افغانستان او د ۱۹۹۷ ز کال کنوانسیون**

لکه څرنګه چې مخکې مو هم ترې یادونه وکړه، په ۱۹۹۷ کال کې له ګډو سیندیزو حوزو څخه ګټې اخیستنې په موخه د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلۍ له لوري د «د کښتۍ چلونې نه وړ نړیوالو ګډو سیندیزو حوزو څخه د ګټې اخیستنې په اړه د ملګرو ملتونو کنوانسیون» تر عنوان لاندې تصویب کړ او د ۲۰۱۴ کال آګست میاشتې په ۱۴مه مرعی الاجرا شو. نوموړی کنوانسیون د ۲۰۱۷ کال تر فبروري پورې د ١٦ غړو هېوادونو لخوا لاسلیک شوی و او ۳٦ یې غړیتوب درلود. (متحد)

د نوموړي کنوانسیون اصول، اساسي طرزالعملونه او د پوله تیریدونکو اوبو په اړه د پالیسي کلي اډانه لري او جزیات یې دولتونو ته پرېښې چې د دوی ځانګړنو او سیندیزو حوزو مشخصاتو ته په کتو یې د جزیاتو په اړه په خپل منځ کې توافق ته ورسیږي. ځینې هغه هېوادونه چې د دې کنوانسیون غړیتوب یې لا تر اوسه نه دی تر لاسه کړی، عبارت دي له: برېټانیا، فرانسې، ډنمارک، سویډن، مجارستان او په اروپا کې عراق، اردن، لبنان، سوریه او قطر او په منځني ختیځ کې ازبکستان په منځنۍ آسیا کې افغانستان د دې کنوانسیون الحاق او یا عدم الحاق په اړه کوم خاص تصمیم نه دی نیولی.

افغانستان د بره پروت هېواد په حیث، په داسې حال کې چې د تیرو ناخوالو او خونړیو جګړو په سبب نه دی توانیدلی د اوبو له منابعو څخه په سمه توګه ګټه واخلي، اوس وخت متمایل دی او شدیده اړتیا لري چې له خپلو پوله تیریدونکو اوبو څخه د برېښنا تولید، اوبو لګونې، صنعتي او ښاري ګټې اخیستنې او د نورو مقاصدو لپاره ترې استفاده وکړي. همدا راز په دې اړه ځینې اندېښنې شته چې له دې منابعو څخه د افغانستان له سهم څخه ګټه اخیستنه به د ګاونډیو هېوادونو پر تاریخي/پخواني ګټه اخیستنه د پام وړ اغیز ولري. په اوسني وخت کې د سیمه ییز او دوه اړخیز حقوقي چوکاټ نشتون هم د حقابې پر تنظیم وضعیت لا وخیم کړی. (دران، ۱۳۹٦)

افغانستان دمګړۍ د کنوانسیون غړیتوب اخیستلو په اړه چوپه خوله پاتې دی، ګومان کیږي چې افغان مقامات فکر کوي چې د دې کنوانسیون غړیتوب به د افغانستان لپآره چارې ساده نه کړي، بل دلیل هم دا د کنوانسیون ځینو موادو «معقولانه او منصفانه ګټه اخیستنه» او همدا راز د «جدي ضرر نه رسول» ابهام او مغلقتیا ده، د نورو اوبیزو ګاونډیو په نسبت د افغانستان کمه پراختیا په دې اړه د دقیقو او واضحو څېړنو نشتون چې په بې پره توګه تر سره شوي دي او دا ټول د دې سبب شوي چې افغانان د کنوانسیون په غړیتوب اخیستلو کې چندان تمایل ونه ښیي او یا لږ تر لږه په نړدې راتلونکې کې د دې موضوع په اړه بحث راپورته نه کړي.

**د افغانستان لپاره د کنوانسیون اهمیت**

څو عاملونه شته چې په افغانستان کې د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون پر سر بحث او تبادل نظر رامنځته کیږي. لومړی دا چې افغانستان پنځه سیندیزې حوزې لري چې له جملې یې څلور هغه پوله تیریدونکې دي. دا وضعیت کېدلای شي د یو حقوقي چوکاټ په نشتون کې افغانستان له داسې وضعیت سره مخ کړي چې پر اساس یې دغه هېواد په نړیواله کچه د خوړو اوبو په اړه له هر ډول تحول څخه متاثره کړي. یا په بل عبارت، ویلای شو چې په بین المللي سطحه د پوله تیریدونکو اوبو په اړه هر ډول څو اړخیز هوکړه لیک او یا معاهده به پر افغانستان اغیز ښندي.

دویم: افغانستان له تیرو څو لسیزو پرله پسې خونړیو ورانکاریو په وجه نه دی توانیدلی چې د هېواد سوکالۍ او اقتصادي تیکاو لپاره له خپلو اوبو څخه ګټنه وکړي. دا په داسې حال کې ده چې دا هېواد د څښاک اوبو تامین، اوبو لګونې، ښاري او صنعتي مقاصدو لپاره د اوبو منابعو مدیریت ته شدیده اړتیا لري. له بله اړخه افغانستان په خپلو ګاونډیو پورې شدیداً متکي یا ځان تړلی دی. د مرکزي احصایې د راپور له مخې، افغانستان دمګړۍ شاوخوا ۹۰ سلنه تجارتي اموال د غذایي او زراعتي هغوی په ګډون له ښکته پرتو ګاونډیو څخه راواردوي. دا هېواد برېښنا له شمالي ګاونډ هېوادونو اخلي.

درېیم: افغانستان پرته له کابل سیند څخه چې د چترال له لوړ څخه یې یوه برخه (کونړ سیند) سرچینه اخلي؛ په نورو ټولو سیندیزو حوزو کې بره پروت هېواد دی. ځینې بره پراته هېوادونه لکه چین او ترکیه دا ګومان کوي چې د ۱۹۹۷ کنوانسیون په حقیقت کې د ښکته پراته هېوادونو په نفع دی او له هغوی څخه حمایت کوي. نو ځکه پورتنیو دلایلو ته په کتو د افغانستان لپاره نوموړی کنوانسیون اهمیت پیدا کوي.

**د اوبو ښکته پرتو او پورته پرتو هېوادونو لپاره د کنوانسیون چلند**

دلته دا پوښتنه مطرح کیږي چې آیا د ۱۹۹۷ کال کنوانسیون د بره پرتو او ښکته پرتو هېوادونو تر منځ متفاوت چلند غوره کړی که نه. یا په بل عبارت، آیا په رښتیا کنوانسیون د ښکته پرتو هېوادونو حمایت کړی؟

پروفیسور مک کفری چې د پوله تیریدونکو اوبو حاکم حقوقي قواعدو په اړه یې ډېرې څېړنې کړې، په دې نظر دی چې نوموړی کنوانسیون د هیڅ کوم لوري (ښکته او بره پروت) پلوي نه کوي. نوموړی وایي چې دا کنوانسیون په حقیقت کې د حقوقي قواعدو چوکاټ دی چې کېدای شي د ټولو هېوادونو (ښکته او بره پرتو) په ګټه تمام شي (رضایی، ۲۰۱٦). د نوموړي په وینا، که چیرې هېوادونه غواړي چې نړۍ ته ووایي چې له قانون او قانون حاکمیت څخه وېره نه لري، نو باید دا کنوانسیون تصویب کړي. همدا راز د نړیوالو حقوقو نور پوهان هم ورته نظر لري. دوی وایي: «دا کنوانسیون اصولاً او قاعدتاً یو اساس او مبنا دی چې اساسي اصول او کړنلارې بیانوي او د جزیاتو کار یې دولتونو ته پرېښی چې څنګه کولای شي خپلو شرایطو او د سیندیزو حوزو شرایطو ته په کتو مذاکره او بالاخره توافق ته ورسیږي.»

لکه څنګه چې مخکې مو هم وویل پورته پراته هېوادونه فکر کوي چې د دې کنوانسیون ځینې مواد مشخصاً ۵مه ماده (معقولانه او منصفانه ګټه اخیستنه) او ۷مه ماده (پام وړ ضرر نه رسول) مبهم دي او کېدای شي ترې بېلابېل برداشتونه رامنځته شي. په حقیقت کې د دې دوو مادو پر سر د نړیوالو حقوقو کمېسیون(ILC) شپږمه کمیټه (تقنین) او همدا راز د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبلۍ کې هم پراخ او جدي بحثونه راپورته کړل.


دوام لري...

## عامې روغتیا وزارت: د کرونا پېښې راکمې شوې، خو دویم احتمالي پړاو ته یې هم چمتووالی لرو

عامې روغتیا وزارت وایي، چې په هېواد کې د کرونا ویروس پېښې راکمې شوي، خو د دغه ویروس دویم پړاو ته هم چمتووالی نیول شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې په هېواد کې د کرونا ویروس لومړۍ مثبته پېښه نږدې پنځه نیمې میاشتې مخکې ثبت شوه، خو اوس په ټول هېواد کې تر اوسه د دې ناروغۍ ۳۷۵۹۹ مثبتې پېښې ثبت شوې دي.

د عامې روغتیا وزارت د معلوماتو له مخې، له دغې ډلې تراوسه ۱۳۷۵ کسان مړه او ۲۷۲۲۳ نور روغ شوي دي، خو یوه سروې ښیي چې هېواد کې پر دغې ناروغۍ د



اخته کسانو شمېر تر لس میلیونو اوښتی دی.

څه موده مخکې په هېواد کې د دې ناروغۍ د مثبتو ورځنیو ثبت شویو پېښو شمېر نږدې تر زرو تنو ورسېد، خو اوس ورځ تر بلې دغه شمېر مخ پر کمېدو دی.

د یاد وزارت د معلوماتو له مخې، په تېرو ٢٤ ساعتونو کې د هېواد په لابراتوارونو کې د کرونا ویروس ٤٦٨ شکمنې پېښې ازمایل شوې چې ٤٨ یې مثبتې دي.

د عامې روغتیا وزارت ویاند اکمل سمسور تېره ورځ په کابل کې خبریالانو ته ویلي چې پخوا به د دغه ویروس د مشکوکو پېښو تر ٦٠ سلنه مثبتې وې.

هغه ویلي چې په مني او یا ژمي کې د دې ویروس د دویم ځل احتمالي خپرېدو د چمتووالي په موخه ٥٦٠ د تنفس الې چمتو شوي چې یو شمېر یې ۱۳ ولایتونو ته استول شوې او نورو ولایتونه ته هم استول کیږي.

سمسور په دې ناسته کې ویلي چې تېرکال په هېواد کې ۳۱۵ تنه په کانګو ناروغۍ اخته شوي وو او له امله یې ۴۲ تنه مړه شوي، خو سږکال د دغې ناروغۍ ۱۰۲ پېښې ثبت شوي او له امله یې پنځه کسان مړه شوي دي.

# شکست امریکا در تعین معادلات جهانی

سالار

امریکا که تا دیروز تصمیم گیرنده اصلی معادلات جهان بوده است، امروز نه تنها در حال از دست دادن این مقام است، بلکه با رکود اقتصادی و همچنان با اختلاف شدید نژادی داخلی نیز دست و پنجه نرم می کند.
رد شدن قطعنامه پیشنهادی امریکا از سوی اعضای شورای امنیت سازمان ملل متحد، به معنای شکست امریکا در تعین معادلات جهان بوده است.
اعضای دائم و غیر دائم شورای امنیت سازمان ملل در چهاردهم ماه اگست درباره قطعنامه پیشنهادی آمریکا در خصوص تحریم تسلیحاتی ایران رای گیری کردند. قطعنامه پیشنهادی دو بند مقدماتی و دو بند عملیاتی داشت و خواستار تمدید محدودیت های تسلیحاتی ایران تا تصمیم ثانوی شده بود و قطعنامه جدید نسخه تعدیل شده قطعنامه قبلی آمریکا بود.
هر چند که این قطعنامه به لحاظ ظاهری و محتوایی تغییرات عمده ای کرده بود، اما هدف آن مشابه قطعنامه قبلی آمریکا بود. اما در رای گیری انترنیتی روز چهاردهم اگست آمریکا فقط توانست به غیر از خودش رای یک کشور کوچک، یعنی جمهوری دومینیکن را به خود جذب کند.
نتیجه رای گیری چیزی جز شکست سنگین برای واشنگتن نبود که نتوانست ۱۳ عضو دیگر شورا را با خود همراه و آنها را برای تصویب قطعنامه پیشنهادیش مجاب کند. شاید به سختی بتوان سابقه چنین شکستی را برای آمریکا طی ۷۵ سال گذشته در شورا یافت.
گرچه سران امریکایی شکست خود را پنهان می کند، اما بسیاری از فعالان سیاسی این کشور آنرا فاش کرده است.
سناتور «کریس مورفی» نماینده ایالت کانتیکات در سنای آمریکا روز شنبه در پیامی توئیتری، ناکامی اخیر کشورش در به تصویب رساندن قطعنامه تمدید تحریم‌های تسلیحاتی علیه ایران در شورای امنیت را «تار و مار شدن» خواند و از دولت ترامپ به‌عنوان باعث و بانی این افتضاح ملی به‌شدت انتقاد کرد.
این سناتور دموکرات که یکی از اعضای کمیته روابط خارجی مجلس سنای امریکا به شمار می‌رود، در صفحه رسمی خود در توئیتر درباره ناکامی محض دولت امریکا در جلب آرای اعضای شورای امنیت برای تمدید تحریم‌های تسلیحاتی علیه ایران نوشت: «این یک شکست نبود، تار و مار شدن بود. از میان ۱۵ کشور عضو شورای امنیت، تنها جمهوری دومینیکن به نفع ما رأی داد.»
وی افزود: «این نشان می‌دهد که امریکا تا چه حد ضعیف شده است و دیگر کشورهای جهان چگونه به راهبرد فاجعه‌بار ترامپ در قبال ایران نگاه می کنند.»
«جان ریکاردو آی. ئوآن کول» استاد رشته تاریخ در پوهنتون میشیگان نیز که چندین کتاب با موضوع خاورمیانه مدرن چاپ کرده است، درباره رأی گیری شورای امنیت برای قطعنامه پیشنهادی کاخ سفید برای تمدید تحریم‌های تسلیحاتی ایران نوشت: «به سختی می توان رأی گیری دیگری را به یاد آورد که در آن امریکا اینگونه بد تحقیر شده باشد.»
قطعنامه پیشنهادی آمریکا برای تمدید ممنوعیت تسلیحاتی ایران در ۱۴ اگست با ۱۱ رأی ممتنع (بلژیک، استونی، فرانسه، آلمان، اندونزی، نیجر، سنت‌ویسنت، آفریقای جنوبی، تونس، انگلیس و ایرلند شمالی و ویتنام)، ۲ رأی موافق امریکا و جمهوری دومینیکن و ۲ رأی مخالف روسیه و چین به تصویب نرسید.
این تحلیلگر سیاست خارجی امریکا و مسائل خاورمیانه در ادامه افزود: «به ما اجازه دهید تا این را برجسته کنیم. قدرتمندترین کشورهای جهان و نمایندگان کنونی اصلی ترین بلوک‌های جهانی علیه ترامپ قرار گرفتند.»
کول تأکید کرد: «ایالات متحده دیگر رهبر جهان آزاد نیست.»
اما به نظر بنده» نویسنده این متن» برای امریکا اخبار بدتر از این در راه است. من فکر میکنم که آتش تبعیض نژادی در داخل این کشور و همچنان رکود اقتصادی که در طول تاریخ خود سابقه ندارد، مسایل است که تار و مار شدن امریکا را حتمی خواهد کرد، سران امریکا این همه را درک می کند و برای نجات خود از هر حربه استفاده خواهد کرد.
استراتژی سازان این کشور توجه خود را به خط مقدم جنگ اقتصادی، سیاسی، روانی معطوف کرده اند تا به زعم خودش، شکست کشورش را جبران کند.
از یک سو در تلاش اند که تظاهرات ها و اعتراضات داخلی در برابر تبعیض نژادی را با استفاده از اردوی خود خاموش کند و از سوی دیگر با استفاده از تبلیغات و جنگ روانی برای جبران رکود اقتصادی خود کوشش میکند که جلوی پیشرفت رقبای اقتصادی خود از جمله کشور چین را بگیرد و به بهانه های مختلف به آنها تاخت و تاز می کند و کوشش میکند که حمایت کشورهای دیگر را نیز جلب کند تا بتواند هدف خود را بدست بیاورند.
آشتی امارات متحده عربی و اسرائیل که در روزهای اخیر به میانجی گری سران امریکا صورت گرفته است و همچنان بر اساس گزارشهای خبری، امریکا در تلاش است تا آشتی بین یک کشور مهم دیگر جهان اسلام با اسرائیل نیز صورت گیرد، هدفی که امریکا از قبل آنرا دنبال میکرد.
امریکا با این کار چندین اهداف را دنبال می کند که یکی از اهداف این کشور جدا کردن کشورهای اسلامی به خصوص کشورهای عربی و ایجاد موانع در برابر رقبای خود در منطقه است.
«لارنس ویلکرسون»، یک دگروال متقاعد اردوی امریکا که مدتی به عنوان رئیس دفتر «کالین پاول»، وزیر خارجه اسبق امریکا فعالیت داشت و سیاستمداری جمهوری‌خواه است در گفتگو با روزنامه «تاگس سایتونگ» به توافق اخیر بین اسرائیل و امارات پرداخته و آن را غافلگیر کننده ندانسته و گفت: «امریکا مدت های طولانی در این راستا کار می کند.»
وی افزود: «ایالات متحده امریکا مدتهاست تلاش می کند کشورهایی از جهان عرب را از هم جدا کند و توافقی را میانجی گری کند که قابل قیاس با توافق صلح اردن و مصر با اسرائیل است.»
نتیجه گیری:
اگر به تاریخ مراجعه شود، قدرتهای بزرگ به شکل ناگهانی سقوط نکرده، بلکه به سبب ظلم، استبداد و تجاوز علیه دیگر ملت ها و اوج اشغال سرزمین های دیگران و همچنان مخالفتهای داخلی، مشکلات اقتصادی و نظامی به تدریج رو به زوال رفته و در نهایت از هم پاشیده و از بین رفته است.
اکنون به شکل واضح دیده میشود که امریکا از چند جهت با مشکلات جدی مواجه شده است.
از یک سو ظلم و استبداد و مداخلات نظامی، اقتصادی و سیاسی امریکا در دیگر کشورها و اوج تعبیض نژادی در داخل این کشور سبب شده است که دیگر زوال این کشور مشاهده شود.
دولت امریکا با وجود سرکوب کردن ظالمانه تظاهرات کنندگان و معترضان ضد تبعیض نژادی در این کشور، هنوز موفق نشده است که تظاهرات ها را خاموش کند.
علاوه بر این، ویروس کرونا نیز سر غرور امریکا را به زانو در آورده است و این کشور را به شدت متاثر کرده است.
در طول تاریخ امریکا اولین بار است که اقتصاد این کشور رو به خرابی است و حتا با رکود اقتصادی مواجه شده.
همان گونه که میدانیم، اقتصاد مغز یک نظام محسوب میشود و اگر مغز فلج گردد، همه نظام فلج خواهد شد.
و در مقابل آن رقیب اقتصادی اش، یعنی چین در مقابله با ویروس کرونا موفق برآمده و رشد اقتصادی این کشور بسیار به سرعت رو به افزایش است و آگاهان امور به این باور ست که بدون شک چین مقام امریکا را خواهد گرفت.
به باور تحلیل گران، امریکا نه تنها در جلوگیری گسترش رشد اقتصادی چین ناکام شده است، بلکه در وارد کردن فشارها علیه ایران و روسیه نیز با شکست مواجه شده است و حتا بعضی از کشورهای اروپایی که یاران قدیمی امریکا محسوب می شد، اکنون از امریکا ناراض هستند.

# له جګړې ستړي ولس او نامعلومه سوله؛

## د طالب زندانیانو د خوشي کولو په برخه کې نوي خنډونه جوړ شوي



د ملي مصالحې عالي شورا وايي، د طالبانو د څلور سوه بندیانو د خوشي کولو لړۍ درېدلې ده. د دې شورا وياند ويلي چې د زندانيانو د خلاصون په پروسه کې يو شمېر هېوادونه ملاحظات لري، نو له همدې امله د زندانيانو د خوشي کولو لړۍ درېدلې ده، څو شته ستونزې حل شي. بلخوا طالبان بيا وايي چې د زندانيان تر خوشي کېدو وروسته به د بين الافغاني مذاکراتو نېټه مشخصه شي. د دې تر څنګ ولس بيا د دې غوښتونکی دی چې ژر تر ژره بين الافغاني خبرې پيل شي، زندانيان دې خوشي شي او اوسني خونړي وضعيت ته دې د پای ټکی کېښودل شي.
افغان حکومت د څلور سوه طالب زندانيانو د خوشي کولو لپاره مشورتي لويه جرګه راوبلله او دې جرګې حکومت ته مشوره ورکړه چې د طالبانو څلور سوه بنديان دې خوشي کړي. ولسمشر د جرګې له پرېکړې څو ورځې وروسته د طالبانو د بنديانو د خوشي کولو فرمان صادر کړ او سپارښتنه يې وکړه چې ژر تر ژره دې دغه پروسه بشپړه شي. د زندانيانو د خوشي کولو تاوده غبرګونونه وپارول او ټول اړخونه دې ته هيله من شول چې ژر به بين الافغاني خبرې پلېږي. په لومړي سر کې خو داسې ګنګوسې وې چې ښايي په درېيو يا شپږو ورځو کې بين الافغاني مذاکرات پيل شي، خو تر دې دمه لا د طالبانو د بنديانو په پروسه کې ستونزې موجودې دي.
تازه يو شمېر رسنۍ وايي چې ځينې هېوادونه د طالب بنديانو د خوشي کولو په تړاو ملاحظات لري. د دغو هېوادونو له ډلې يو هم فرانسه دی چې په رسمي توګه يې د ځينې طالب بنديانو د نه خوشي کولو غوښتنه کړې ده. د فرانسې د بهرنيو چارو وزارت وايي، د طالبانو په بنديانو کې داسې کسان دي چې په افغانستان کې يې د فرانسوي وګړو په وژلو کې لاس درلود. د دوی په خبره، درې داسې بنديان همدا اوس په دغه څلور سوه کسيز لېست کې شامل دي چې د فرانسوي وګړو په وژلو تورن دي او حکومت يې بايد خوشي نه کړي.
له دې سره جوخت د ملي مصالحې عالي شورا ويلي چې د ځينو هېوادونو په غوښتنه د زندانيانو د خوشي کولو پروسه درول شوې ده. د دې شورا په خبره، يو شمېر هېوادونه وايي چې په دې ډله طالب بنديانو کې داسې کسان شته چې دوی ورباندې دعوه لري او افغان حکومت يې بايد خوشي نه کړي. د ملي مصالحې عالي شورا وياند فريدون خوځون وايي، دغې شورا له يادو هېوادونو سره خبرې پيل کړې دي او هڅه کوي دغه پروسه بشپړه شي. د ده په خبره، د ملي مصالحې عالي شورا غواړي چې د زندانيانو د خوشي کولو پروسه بشپړه شي او په دې توګه ژر تر ژره د سولې د راتګ په موخه بين الافغاني مذاکرات پيل کړل شي.
بلخوا د طالبانو د قطر دفتر وياند بيا وايي چې د څلور سوه پاتې طالب بنديانو تر خوشي کولو مخکې په هېڅ صورت بين الافغاني خبرې نه پيلوي. نوموړي په خپله يوه تازه مرکه کې ويلي دي چې بين الافغاني خبرو ته تيار دي، خو د زندانيانو تر خلاصون مخکې دا پروسه نه پيلوي. دوی وايي، د بين الافغاني خبرو د پيل لپاره هېڅ راز نېټه هم نه ده مشخصه شوې او همدا چې طالب بنديان خوشي کېږي، دوی به بين الافغاني مذاکرات له افغاني سياسي جهتونو سره پيلوي.
د زندانيانو د خلاصون او بين الافغاني مذاکراتو د ځنډېدو ستونزه داسې مهال رامنځ ته کېږي چې عام افغانان نور له جګړو ستړي شوي دي او ددې غوښتونکي دي چې ژر تر ژره بايد مذاکرات پيل شي او روانه جګړه پای ته ورسول شي. د سولې مشورتي لويې جرګې هم په زغرده له حکومت وغوښتل چې د سولې خبرې وکړي، دوی پر طالبانو هم غږ وکړ چې ژر تر ژره دې د سولې غوښتنه ومني او له جګړو دې لاس په سر شي.

# ټرمپ: راتلونکې اونۍ به پر ايران د بنديزونو د لګولو په تړاو نوي اقدامات وکړو


وروسته له هغې چې د ملګرو ملتونو امنيت شورا د ايران پر ضد د وسلو بنديز د مودې له اوږدېدو سره مخالفت وکړ، امريکا ويلي چې راتلونکې اونۍ به يو ځل بيا د ايران پر ضد د وسلو بنديز د اوږدېدو هڅه وکړي.
دا په داسې حال کې ده چې د پخوانۍ هوکړې له مخې، د ايران پر ضد دا بنديزونه د اکتوبر په مياشت کې پای ته رسېږي. د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د امنيت شورا د تازه پرېکړه په غبرګون کې ويلي، امريکا پر ايران د ټولو بنديزونو د بېرته لګولو ميکانېزم فعالوي. ټرمپ خبرياﻻنو ته ويلي چې راتلونکې اونۍ به په دې تړاو ټول اقدام ووينې.
ولسمشر ټرمپ دا څرګندونې وروسته له هغې کوي چې د ملګروملتونو د امنيت شورا ۱۵ غړي هېوادونه پر ايران د وسلو د بنديز د اوږدولو پر سر موافقې ته ونه رسېدل او د امريکا په ګډون د دې شورا يوازې دوو غړو دې پرېکړې ته مثبته رايه ورکړه. ويل کېږي چې دغه اقدام د امنيت شورا غړي له سياسي پلوه له سخت حالت سره مخ کړي دي. د امريکا ولسمشر د يوې پوښتنې په ځواب کې چې ايا له ايران سره د کړکېچ د کمولو په خاطر د روسيې د ولسمشر ولاديمير پوتين له لوري په وړانديز شوې غونډه کې ګډون کوي، ويلي چې دا احتمال نه ويني. په ورته وخت کې د ايران ولسمشر حسن روحاني ويلي چې د امريکا متحد اياﻻتونه په خپله دسيسه کې ناکام شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې امريکا د ۲۰۱۸ ز کال په مې مياشت کې له ايران سره له اټومي هوکړې ووته او پر دغه هېواد يې بنديزونه بېرته ولګول.
د ملګرو ملتو د امنيت شورا د ۲۲۳۱م نمبر پرېکړه‌ليک پر اساس د ايران پر ضد بنديزونه په تدريجي ډول د اکتوبر له مياشتې نرمېږي. دا بنديزونه په ۲۰۱۵ ز کال د ايران او نړيوالو قدرتونو ترمنځ له اتومي هوکړې وروسته تصويب شول. تر دې وړاندې پامپيو د جون په ۳۰ مه د امنيت شورا په غونډه کې چې د ايران د وسلو بنديزونو پر اوږدولو د غور لپاره جوړه شوې وه، د ايران د بنديزونو پای ته رسيدل د ملګرو ملتونو له مسووليت سره خيانت وباله.
هغه خبرداری ورکړ چې که پرېښودل شي چې د بنديز موده پای ته ورسېږي، په منځني ختيځ کې به بې‌ثباتۍ رامنځته شي. روسيې او چين چې په امنيت شورا کې د ويټو حق لري، ويلي وو چې د ايران د بنديزونو د غځولو په اړه د امريکا له غوښتنې سره مخالف دي.

## د کتــاب خبــرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### درېیمه برخه
### ستاسو راتلونکی اوس پیلېږي!
### یوویشتم څپرکی




**۲۱. د یوویشتمې پېړۍ تجارت**

شبکه یي بازارموندنې ته زما د احترام یو لامل دا دی چې دا تجارت ټولو ته یو ډول فرصت ورکوي. شبکه یي بازارموندنه له خورا ډېرو کسانو جوړه ده. شپېته میلیونه خلک پکې لګیا دي. که له نژدې ورته وګورئ، نو د بېلابېلو نژادونو، مذهبونو، عمرونو، تجربو او مهارتونو خلک به پکې ومومئ.

دغه ځانګړنې له دې تجارت څخه د راتلونکو وختونو تجارت جوړ کړی دی او تر بل هر وخت په یوویشتمه پېړۍ کې دې ته متوجه کېږو چې شتمني له محدودو پیسو سره لوبه نه ده چې یو کس ډېرې او بل لږ ولري. داسې نه ده چې یو کس شتمن شي، نو بل دې نېستمن شي. رښتینې شتمني پر داسې لارو رامنځته شوې چې د انسانانو مالي حفاظت او خوندیتوب زیاتوي. یانې په شبکه یي بازارموندنه کې که یو کس شتمن کېږي، دا په دې مانا نه ده چې بل دې نېستمن شي، بلکې دوی دواړه به ګټه کوي. شبکه یي بازارموندنه له مالي زیان څخه ستاسو خوندیتوب زیاتوي.

د تجارت لپاره دا زما شخصي ارزښتونه دي او شبکه یي بازارموندنه دغه ارزښتونه لري. پر دغو ارزښتونو تکیه کول نه یوازې ښه احساس درکوي، بلکې غوره تجارت هم دی.

د ډیموکراتیکې شتمنۍ جوړول

د شبکه یي بازارموندنې پر ملاتړ او پر مخ ته بېولو زما د زیاتې انرژۍ لګولو یو دلیل دا دی چې د شبکه یي بازار موندنې لارې د شتمنۍ موندلو تر نورو عادلانه لارې دي.

د شبکه یي بازارموندنې نظام داسې جوړ شوی چې هرڅوک په شتمنۍ کې ونډه لري. دا د شتمنۍ ګټلو ډیموکراتیکه لاره ده. دروازه یې د ټولو هغو کسانو پر مخ خلاصه ده چې وړتیا، عزم او ټینګار ولري. د پوهنتون لوستل یا نه لوستل په دې تجارت کې هېڅ ارزښت نه لري. په دې تجارت کې دا هېڅ اړینه نه ده چې د کوم نژاد خاوندان یئ، نارینه یئ که ښځینه، څنګه رنګ مو دی، مور او پلار مو څوک دي او څومره مشهوره یئ. د شبکه یي بازارموندنې ډېر شرکتونه د دې تجارت د زده کړې لپاره ستا لېوالتیا، بدلون او پرمختګ ته ارزښت ورکوي. د هغوی لپاره په ښو او بدو حالاتو کې د تجارت د خاوند په توګه ستا جرات اړین دی.

شبکه یي بازارموندنه د تجارت خورا غوره نظریه ده. له بېلابېلو اړخونو دا د راتلونکو وختونو تجارت ښکاري. ولې؟ ځکه نړۍ ورو ورو د صنعتي وختونو پای ته رسېدو ته متوجه کېږي.

په داسې نړۍ کې چې خپل پخوانی خوندیتوب له لاسه ورکوي، شبکه یي بازارموندنه د پرمختګ او خوندیتوب د ماشین حیثیت لري. همدا شبکه یي بازارموندنه د نړۍ په هره ګوښه کې میلیونونو خلکو ته د ژوند د کابو کولو او غوره مالي راتلونکي فرصتونه برابر وي. په همدې خاطر زوړ فکره خلک دې ته چندان ارزښت نه ورکوي؛ خو بیا هم دا تجارت په خورا چټکۍ پرمختګ کوي.

په راتلونکو کلو کې په دې تمه یم چې د شبکه یي بازارموندنې د شرکتونو پرمختګ، ډېروالی، نفوذ، څرګندتیا او پوخوالي ووینم.

مخکې مې درته وویل چې توماس اډیسن څنګه شتمن شو. هغه برېښنایي څراغ اختراع نه کړ، بلکې د څراغ د ملاتړ او ساتنې لپاره یې شبکه جوړه کړه. اډیسن د هنري په نوم یو کارګر درلود. هغه په عین اختراع د اډیسن په څېر کار وکړ؛ خو په هغه وخت کې داسې ښکارېده چې د هغه اختراع د ګټې اخیستنې وړ نه ده. که هنري د خپلې اختراع لپاره د اډیسن په څېر شبکه جوړه کړې وای، هغه به هم شتمن شوی و.

د ماهیت او طرحې له مخې شبکه یي بازارموندنه یو عادلانه او ډیموکراتیک نظام دی او له ټولنیزه پلوه د شتمنۍ جوړولو مسئولانه نظام دی.

د اډیسن او برښنایي څراغ په څېر، ځوان هنري فورډ اتومات موټرونه اختراع نه کړل، بلکې داسې بنیادي کار یې وکړ چې د تل لپاره یې د موټرونو او میلیونونو خلکو برخلیک بدل کړ. د تېرې پېړۍ په لومړیو کې موټرونه یوازې له شتمنو خلکو سره وو. دومره ګران وو چې یوازې شتمنو خلکو اخیستلی شوای. خو د فورډ د دې بنیادي نظریې په وسیله ټولو خلکو وکړای شول چې موټر ولري. د تولیداتو د لګښت په کمولو او د معیاري ارزانه موټرونو په جوړولو فورډ په نړۍ کې د موټرونو تر ټولو لوی تولیدونکی شو. یوازې یې موټرونه ارزانه نه وو، بلکې و کارګرو ته یې تر ټولو لوړه تنخوا ورکوله، کارګرو ته یې له شرکت څخه اضافي ګټې ورکولې او هر کال یې د دویم ځل لپاره دېرش میلیونه ډالره بیا پر هغوی وېشل. دېرش میلیونو ډالرو د تېرې پېړۍ په لومړیو کې تر اوس وخته خورا ډېر ارزښت درلود. **دوام لري...**

# فاریاب

حشمت الله نوري

فاریاب د هېواد له شمالي ولایتونو څخه دی، چې له ترکمنستان هېواد سره پوله لري، غرب او خراساني جغرافیه لیکوونکو دا ولایت په فیریاب، پاریاب او باریاب بڼو هم لیکلی دی. په لومړنیو شپړو اسلامي پېړیو کې دا ولایت د خراسان له مشهورو او کرنیزو ولایتونو څخه شمېرل کېده او په څلورمه پېړۍ کې له جوزجان سره یو ځای د نعمتونو د ښار او د سوداګریزو کاروانونو لار ګڼل کېده.

د فاریاب مرکز میمنه ښار د جغرافیایي موقعیت له مخې د شمالي طول البلد په ۳۵-۳۷ درجو او د ختیځ عرض البلد په ٦٤-٦٦ درجو کې پروت دی.

دا ولایت د کابل شمال ته په ۸۱۵ کیلومترۍ کې واقع دی، له شمالي اړخه له ترکمنستان سره پوله لري او په ختیځ او سوېل- ختیځ کې له سرپل، په سوېل کې له غور او لوېدیځ کې له بادغیس ولایت سره نښتی دی.

فاریاب په ختیځ او شمال- ختیځ کې له جوزجان ولایت سره جغرافیایي حدود لري او د جوزجان او فاریاب تر منځ تر ټولو اوږد واټن لیلې دښتې (دشت کعب) جوړ کړی دی.

د تیربند- ترکستان د غرونو لړۍ هم د فاریاب په سوېل کې له ختیځ نه د لوېدیځ په لور غځېدلې او د سمندر له کچې نه له دوو نه تر پنځو زرو مترو پورې لوړوالی لري، چې وروسته بیا د بادغیس تر مرغاب سیند او هرات پورې غځېدلې ده.

د افغانستان د سیاسي جغرافیې د خپرونو پر بنسټ ، د دې ولایت پراخوالی ۲۷۹۲۲ کیلومتره مربع ښودل شوی او د وګړو شمېر یې په هرو دوو کیلومترو کې ٦١ تنه ښودل شوی.

د همدې شمېرو له مخې، د فاریاب ټولیز نفوس له یوه میلیون او ۷۰۰ زره کسانو څخه زیات اټکل کېږي، خو په رسمي مجلسونو او محافلو کې د دې ولایت نفوس له دوو میلیونو کسانو څخه زیات بلل کېږي.

د فاریاب اقلیم په ځانګړي ډول پسرلي کې باراني او زیات ورښت لري، خو دا چې د غنمو زیات کښتونه یې درلودل، نو دا ولایت په تېر کې د افغانستان د ګدام په نامه یادېده.

د اوړي ګرمي یې تر ۳٦ درجو سانتي ګراد پورې رسېږي، د ورښت منځنۍ کچه یې په کلي ډول تر ۷۰۰ ملي مترو اټکل شوې او ځمکه یې د سمندر له کچې ۸٤٤ متره اوچتوالی لري.

ولسوالۍ:

میمنه ښار د فاریاب ولایت مرکز دی، دا ښار له ۹ ناحیو څخه جوړ شوی او نفوس یې نږدې ۲۰۰ زره تنه اټکل شوی دی.

د نومونې وجه: دا ښار پخوا د (یهودیه- نسائیه- السناء او محرقه) په نومونو هم یاد شوی او په درېیمه هجري پېړۍ کې د نن یهودانو ښار (میمنه) د فاریاب د امارتي اداري مرکز و.

د اریانا ښاروونه مولف لیکي: «میمنه ښار په لومړي ځل د هغو اسرائیلو له خوا جوړ شو، چې د بخت النصر له خوا را استول شوي وو، خو وروسته بیا مسلمانانو په نېک فال ونیوه چې میمنه یې د نېکمرغۍ ښار په نامه یادوه.»

فاریاب نورې ١٤ ولسوالۍ لري چې د پشتونکوټ، المار، قیصار، خواجه سبزپوش، شیرین تګاب، دولت اباد، بلچراغ، ګرزیوان او لولاش (کوهستان) دي.

اندخوی هم یوه پراخه ساحه ده، چې د اندخوی، قرمقل، قرغان او خانچارباغ ولسوالۍ په کې شاملې دي.

غورماچ ولسوالۍ هم په دې ولایت پورې اړه لري، چې د نویو تشکیلاتو له مخې له تېرو پنځو کلونو راهیسې په فاریاب پورې اړونده شوې ده.

دا ولایت درې نا منظورې شوې ولسوالۍ هم لري، چې اوسمهال د ولسوالۍ په کچه برابرې شوې. دا ولسوالۍ چهلګزي، پند او خواجه موسی دي.

د فاریاب اوسېدونکي له ازبک، تاجک، پښتون، ترکمن او ایماق قومونو څخه دي، خو ځینې نور قومونه لکه عرب، هزاره (میمنه ښار کې) مغل او ناقلین (کوچیان) چې په دولت اباد، شیرین تګاب، المار، قیصار او پشتونکوټ ولسوالیو کې مېشت دي، خو غوڅ اکثریت یې ازبکان جوړوي. دودیزه ژبه یې ازبکي، دري، ترکمني او پښتو ده.

فاریاب ولایت له ۱٤٥٠ زیات کلي لري او د کلیو او پراختیا ریاست چارواکو د معلوماتو له مخې، له کوهستان ولسوالۍ پرته په نورو ولسوالیو کې یې ۱۱٤٠ د ملي پیوستون شوراګانې جوړې شوې دي.

فرهنګ:

فاریاب یو له هغو ولایتونو څخه دی چې غښتلې فرهنګي او عرفاني مخینه لري، د افغانستان په تاریخ کې ډېر نوماندي شاعران او لیکوال په دې ولایت پورې اړه لري.

د فاریاب پخوانې او وروستنې ځینې نوماند شاعران او لیکوال دا دي: فاریاب ظهیرالدین ظهیر فاریابي، پروفیسور غلام محمد میمنګي (مشهور نقاش او انځورګر)، محمد یحیی نادم قیصاري او داسې نور.

د نقاشۍ او انځورکښنې هنر: غلام محمد میمنګي د نړۍ لومړی پروفیسور دی، چې په ختیځه اسیا کې د افغانستان د رسامۍ او نقاشۍ هنر یو مخکښ افغان هنرمند تېر شوی، چې درواني پېړۍ په دویمه لسیزه کې له فاریاب نه کابل ته تبعید او په همدې ښار کې ومړ.

عبدالعزیز رووفي یو بل ماهر رسام او نقاش دی، چې د وریجو په یوه دانه یې بسم الله الرحمن الرحیم لیکلي وو، همداسې کاظم امیني، محمد داوود نجفي، استاد محمد صدیق حجاز، استاد غلام محمد حجاز، محمد کاظم عرب، محمد هاشم ارام او سلیمان امیني هم د دې ولایت له مشهورو نقاشانو، انځورګرانو او میناتورانو څخه دي. خو معاصرې کمپیوټري ټکنالوژۍ دا هنرونه د ورکېدو له ګواښ سره مخ کړي دي.

رسنۍ :

د دې ولایت لومړنۍ خپرونه «ستوری» نومېږي، چې په ۱۳۲۲ لمریز کال په فاریاب کې د لومړي ځل لپاره چاپ شوه او هره اونۍ به د اطلاعاتو او کلتور ریاست له لوري خپرېده.

د طالبانو د حکومت له پرځېدو سره سم په دې ولایت کې د صدای ملت، صدای قلم، حقیقت، کورش، ایشانچ، میمنه، کوزګو، آق یول او مالي امکاناتو د نشتون له امله د میاشتنیو او مهالینو په بڼه د مزارشریف او کابل په مطبعو کې خپرېږي.

تاریخي ابدات:

په فاریاب ولایت کې ډېر تاریخي زیارتونه شته، چې له دې ډلې د امام صاحب، شاهمردان (د حضرت علي رض د قدم اېښودلو ځای)، خواجه عزیزان (اصحاب کهف)، لقمان حکیم مزار (لقمان باعورا)، د خواجه اسحاق او همدارنګه د خواجه بلچراغ زیارت هم په میمنې ښار کې دی.

پوهنه:

په فاریاب ولایت کې ٥٠٤ ښوونځي شته، چې۱۲۱ یې لېسې او پاتې نور یې لومړني او منځني ښوونځي دي، چې د ۱۸۰ زره نجونو په ګډون پکې له ٤٠٠ زرو زیات زده کوونکي زده کړې کوي، چې تدریسي چارې یې د ۷۷۰۰ ښوونکو له خوا تر سره کېږي.

د دې تر څنګ په فاریاب کې ۲۹ مدرسې او دارالحفاظونه، ٦ تخنیکي او مسلکي لېسې او د ښوونکو روزنې ۸ مرکزونه هم فعالیت لري.

پوهنتون:

د فاریاب د لوړو زده کړو موسسه هم په ۷٥ جریبه دولتي ځمکه کې د درې میلیونه ډالره لګښت سره په میمنې ښار کې جوړه شوې او په ۱۳۹۱ لمریز کال یې د پوهنتون کچې ته ارتقاع کړې ده.

په دې پوهنتون کې د ٤٥٠٠ کسانو په ګډون، چې ٤٠ سلنه یې نجونې دي، د ښوونې او روزنې، ادبیاتو او بشري علومو، اقتصاد، کرنې، حقوق او شپې پوهنځیو کې زده کړه کوي.

جوماتونه :

په دې ولایت کې ۲۳۰۰ جوماتونه هم شته چې له دې ډلې یې ٤٠٠ جامع جوماتونه دي، په رسمي دیني مدرسو سربېره ۷۲ دارالحفاظونه په جوماتونو کې په غیر رسمي بڼه جوړ شوي، چې د هېواد بچیان په کې روزل کېږي.

صنعت:

د افغانستان تر ټولو مشهورې غالۍ په فاریاب ولایت کې تولیدېږي ، چې نړیوال نوم یې خپل کړی دی، د دې ولایت د څلورو ولسوالیو (اندخوی، قرمقل، قرغان او خانچارباغ) ٦٥ سلنه وګړي د خپل ژوند اړتیاوې د غالیو له صنعت څخه پوره کوي، خو د خواجه سبزپوش، دولت اباد، شیرین تګاب، بلچراغ او قیصار ولسوالیو غالۍ هم بېل نوم لري، چې د علي خواجه، موری او تګاب شیرین په نومونو یادېږي.

د دې تر څنګ د فاریاب ټغر هم مشهور او له ښه ملي او نړیوال مارکېټ او بازار څخه برخمن دي.

د اقینه مهم ترانزیټي بندر هم په اندخوی ولسوالۍ کې د ورېښمو لارې په اوږدو کې د افغانستان او ترکمنستان په ګډه پوله پروت دی، چې هره ورځ تږې په سلګونو ترانزیټي وسایط له ترکمنستان، ایران، ترکیې، عربي متحده اماراتو، اروپا او چین څخه سوداګریز مالونه افغانستان ته راوړل کېږي.

د دې تر څنګ قرص ګندنه، خامک ګنډنه، مرۍ ګنډنه، لنګۍ جوړونه او نور وړین توکي هم په دې ولایت کې جوړېږي، چې که څه هم له سقوط سره مخ دي، خو بیا هم تر یوې کچې ښه بازار لري.

په فاریاب کې د زرګرۍ، حلبي جوړولو، مسګرۍ، اهنګرۍ، ترکاڼۍ او کلالۍ صنعتونه هم لا دود دي، خو په وروستیو کلونو کې یې بازار سوړ شوی دی.

کرنه:

فاریاب ولایت معتدله هوا لري، چې ۷۰ سلنه اوسېدونکي یې پر کرنه بوخت دي او تر ځان اضافه شوي کرنیز توکي بازار ته هم وړاندې کوي.

د دې ولایت انګور په ځانګړي ډول د قیصار، المار، میمنې ښار، خواجه سبزپوش او شیرین تګاب انګور له ځانګړي نوم څخه برخمن دي او د کابل په بازارونو او حتی په شمال او نورو ولایتونو کې لوړه بیه لري.

د فاریاب خربوزې او هندوانې هم له ښه خوند او مزې څخه برخمنې دي، چې حتی په ترکمنستان، ازبکستان او پاکستان کې مېشت افغانان یې هم له ځان سره وړي.

د دې تر څنګ د فاریاب بېلابېلې وچې او تازه مېوې، سبزیجات او غلې دانې هم له ځانګړي نوم او خوند څخه برخمنې دي.

د فاریاب خوراکونه:

ازبکي قابلي، لاندي پلو، دیګي او تندوري، تکه کباب، بره کباب، چوپان کباب، شیرماهي، آش چکه یي اش، قاشقوي اش، پلو اش، کچري قروت، ایشلیکي (په دې خوراک کې کدو سوری کېږي، بیا په کې غوښه، حبوبات او ډېر مرچ او مساله یو ځای کېږي، په خمیر کې یې نغاړي او تر اور لاندې یې خښوي ) او دوپیازه یې له ښه نوم څخه برخمن دي. د دې ترڅنګ جلبۍ، کنجد حلوا، پروده او تلخان هم هغه خواږه شیزونه دي، چې په فاریاب کې جوړېږي او بیا د ډالۍ په ډول دوستانو ته استول کېږي .

ورزش

اوغلاق یا وزلوبه، پهلواني، غېږ باسنه او نیزه بازي د دې ولایت له مشهورو لوبو دي، خو فوټبال، والیبال، کاراته او نانګفو یې هم له مهمو ورزشونو ګڼل کېږي.

په دې ولایت کې د کرکټ لوبه هم په تازه ډول رواج شوې، خو د دې ولایت په ورزشي فدراسیون کې یې لا تر اوسه ځای نه دی موندلی. په دې ولایت کې په ټوله کې څه باندې ۱۸ ورزشي فدراسیونونه په بېلابېلو ځانګو کې فعال دي.

وزلوبه عموماً په میمنه ښار کې په ټولو ملي او رسمي محفلونو کې د یوه دود په ډول تر سره کېږي او په زرګونو کسان په کې له شور او زوږ سره برخه اخلي. د دې لوبې پهلوانان چې چاپ اندازان یې بولي، په ډېره تېزۍ په چابکو او چستو اسونو سورېږي او هر چا چې وزه حلالې دایرې ته واچوله، نو نومره ګټې او له نغدو پیسو پرته نورې ډالۍ هم ورکول کېږي.

په دې لوبه کې د اس ټاکنه عمده رول لري او هر اس چې ډېر هوښیار او چټک وي، نو خپل سپور موخې ته رسوي او ګټونکی اعلانېږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷.۲۵ |
| € | ۸۹ |
| Rp. | ٦۱۲ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۷ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

# د سولې اړوند پرمختګونه، ولسي غوښتنې، فرصتونه او خنډونه

لیکنه: نظر محمد مطمئن

### د سولې اړوند پرمختګونه

د طالبانو او امریکا تر منځ تر یو کال او نږدې ۵ میاشتو مخامخ خبرو وروسته، د مذاکراتو په جریان کې له خنډونو او ستونزو سره سره د ۲۰۲۰ کال د فبروري په ۲۹مه په دوحه کې ″افغانستان ته د سولې راوستلو تړون″ د ملا عبدالغني برادر او ډاکټر زلمي خلیلزاد تر منځ لاسلیک شو.

د فبروري په ۲۹مه په کابل کې د امریکا متحده آیالاتو، ناټو غړو هېوادونو او افغان حکومت تر منځ ″افغانستان ته د سولې راوستلو ګډه اعلامیه″، ډاکټر محمد اشرف غني د امریکا دفاع وزیر مارک اسپر او د ناټو له عمومي منشي سټولټنبرګ سره لاسلیک کړه.

د مارچ په ۱۱مه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د امریکا متحده آیالاتو او طالبانو تر منځ تړون، امریکا متحده آیالاتو او افغان حکومت تر منځ ګډې اعلامیې په ملاتړ او تایید پرېکړه لیک ومانه. د ډاکټر محمد اشرف غني او ډاکټر عبدالله عبدالله تر منځ د ټاکنو د پایلو پر سر جنجال پای ته رسېدل او بالآخره د ملي پخلاینې د عالي شورا جوړېدل او عبدالله یې مشر کېدل بل ښه پرمختګ و.

په کوچني اختر کې ۳ ورځې (۲۴ تر ۲٦مې ۲۰۲۰ کال) او بیا ځل لوی اختر کې ۳ ورځې (۳۱ جولای ۲ اګسټ ۲۰۲۰) اوربند او د جګړې کمښت، د افغان حکومت لخوا د ۴٦۸۰ طالب بندیانو او د طالبانو لخوا د ۱۰۰۵ دولتي بندیانو خوشې کېدل، د سولې دودیزې مشورتي لویې جرګې لخوا د طالبانو له غوښتنې او ټینګار سره د پاتې ۴۰۰ بندیانو د خوشې کېدو پرېکړه او هغوی چې له طالبانو سره د تړاو په تور بندیان دي، خوشې کېدو غوښتنه ښه پرمختګ و. که څه هم د امریکا- طالبانو د تړون ۵ میاشتې تیرې شوې، له تړون وروسته ۱۳۵ ورځو کې د امریکا لخوا په افغانستان کې د ۵ پوځي اډو پرېښودل، له ۱۳ زرو څخه د خپلو پوځیانو شمیر ۸٦۰۰ ته راکښته کول، د طالبانو او امریکا تر منځ د اتصال ډله چې کله سرغړونه کېږي، یو بل ته پر وخت خبر ورکول هم پرمختګونه دي.

### د سولې په وړاندې فرصتونه

داچې د بندیانو د خلاصون بهیر له ځنډ او خنډ سره سره به ژر بشپړ شي، پکار ده چې بین الافغاني خبرې ډېر ژر پیل شي. د افغان حکومت او افغان سیاستوالو لخوا په تفاهم، له طالبانو سره مذاکراتي ډلې کار پیل کړی، داسې نه چې د مذاکراتي ډلې مخالفت ځینې لوی او قوي سیاسي ګوندونه وکړي. د راتلونکي نظام بڼې باندې بحثونه ډېر جنجالي نه شي، د بېلګې په ډول، طالبان پر امارت ډېر ټینګار وکړي او د افغان حکومت + سیاستوالو ډله پر جمهوریت ټینګار ته دوام ورکړي. ښه به وي چې په یو معتدل نظام او د نظام بڼې ″د افغانستان اسلامي دولت″ باندې توافق ته ورسیږي.

د ۲۰۱۴ ز کال ولسمشرۍ ټاکنو پر مهال او بیا د واک په لومړیو وختونو کې به ډاکټر اشرف غني ویل، که سوله کېږي له خپل واکه به ورته تېر شي، مګر اوس ښکاري چې غواړي ۴ کاله نور هم په واک کې پاتې شي. که مذاکراتي ډلې پر لنډمهاله، سرپرست او یا هم کوم بل ډول حکومت توافق کوي، پکار ده چې ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله یې مخالفت ونه کړي. همدارنګه په کور دننه د سیاسي ګوندونو او مدني ټولنو اجماع رامنځته شي چې د بین الافغاني مذاکراتو ملاتړ وکړي. د اوربند مسئله پیچلې ده، که چیرته لومړی د نظام پر بڼې ښکېل اړخونه توافق ته ورسیږي، بیا د اوربند مسئله هم شونې ده.

### د سولې اړوند ولسي غوښتنې

دواړه لوري (طالبانو او افغان حکومت) د بین الافغاني مذاکراتو لپاره بېړه نه لري، پکار ده چې د ولس په خاطر بېړه وکړي او پر ښکېلو لورو یې ولسي، سیاسي او نړیوال فشار واچول شي. پکار ده چې نړیواله ټولنه پر ښکېلو خواوو فشار زیات کړي چې د طالبانو – امریکا او کابل – امریکا/ناټو تړون کې شوې ژمنې عملي کړي.

نړیواله ټولنه او افغان ولس پر ښکېلو لورو فشار راوړي چې د ښکېلو لورو ترمنځ جګړې او مرګ ژوبله کمه شي. داسې یوې کاري ډلې ته اړتیا بریښي چې د بین الافغاني مذاکراتو د بُن‌بست پر مهال له دواړو لورو سره په ناپېیلي ډول کار او د ښکېلو اړخونو تفاهم ته زمینه برابره کړي. دا چې لا هم په افغانستان کې محدود شمېر بهرني اسلامپال جنګیالي ښایي وي، نړیواله ټولنه باید هغوی ته د ژوند مناسب او وړ چاپیریال او ځای برابر کړي.

### د سولې پر وړاندې خنډونه

د جمهوریت په نوم ډیکتاتور نظام او د سولې پر وړاندې د خنډونو او بهانو لټول لا هم جریان لري. د افغان سولې، بین الافغاني خبرو اړوند د امریکا او اروپايي ټولنې متضادې اجنډاوې؛ اروپايي ټولنه په کلکه په افغانستان کې د جمهوریت نظام بقاء او د ډاکټر محمد اشرف غني له حکومت څخه ملاتړ کوي، مګر امریکا په افغانستان کې د ټولو افغانانو په خوښه له راتلونکي اسلامي نظام څخه خپل ملاتړ اعلان کړی.

د طالبانو او امریکا تر منځ بې باوري لا هم پر خپل ځای پاتې ده، د تړون له ژمنو څخه په ځینو مواردو کې امریکایانو سرغړونه کړې او پر طالبانو هم پړه اچول کېږي چې جګړو ته یې زور ورکړی. او تر دې مهاله د ښکېلو لورو لخوا پر جګړې او تاوتریخوالي ټینګار، د سولې بهیر ته ګواښ دی. مهمه دا ده چې افغان حکومت په هغو سیمو کې نوې پوستې جوړې کړي چې ډېر کلونه د طالبانو تر واک لاندې وې، د طالبانو لخوا پرې بریدونه او مرګ ژوبله، دا هرڅه د دې لپاره چې نړیوالو ته وښودل شي چې تاوتریخوالی زیات شوی.

د طالبانو او افغان دولت تر منځ لا هم بشپړه بې باوري شته او طالبان نه دي چمتو چې د افغان حکومت په مشرۍ له افغان سیاستوالو سره بین الافغاني مذاکرات پیل کړي، بلکې افغان حکومت د مذاکراتو پر مهال یو جهت ګڼي، په داسې حال کې چې ډاکټر محمد اشرف غني ټینګار لري چې د حکومت په مشرۍ دې له طالبانو سره بین الافغاني مذاکرات مخکې یووړل شي. همدارنګه د ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله تر منځ بې باوري او د حکومت د وېش او ونډو پر سر لا هم نانندرۍ شته.

د امریکا سپینې ماڼۍ، بهرنیو چارو وزارت او سي آی اې، پنټاګون متضادې تګلارې؛ سپینه ماڼۍ او بهرنیو چارو وزارت په افغانستان کې د سولې پلوي؛ مګر سي آی اې او پنټاګون لا هم د افغان حکومت کلک ملاتړ او جګړې پلوي کوي. د ځینو ګاونډیو هېوادونو ناسمه لاسوهنه، ایران او هند طالبانو ته د ډېر واک ورکولو سره مخالف دي، او پاکستان هم په افغان سوله کې خپل امتیازات (پر ډیورنډ کرښې معامله) په نظر کې نیسي.

که د امریکا – طالبانو تر منځ له تړون څخه سرغړونې په راتلونکې کې کیږي، پرته له شکه د افغان سولې بهیر به لا زیات ټنکی کړي. داسې نظریه چې طالبان دې بې وسلې او په حکومت کې ور ګډ شي، دا ستونزمنه مسئله ده، ښه به وي چې د طالب جنګیالیو لپاره له خپلو وسلو سره وړ ځای او چاپیریال په نظر کې ونیول شي.

د امریکا دوه مخي او د غچ اخیستنې نظریه، لکه چې پخواني شوروي اتحاد چې عملي کړه، که امریکا د خپلو پوځیانو تر وتلو وروسته په افغانستان کې د کورنۍ جګړې او له افغان ولس څخه د غچ اخیستلو فکر لري، بیا نو بین الافغاني خبرې بې پایلې دي.

په افغانستان کې د لوېدیځ په خوښه له ۱۸ کلنو لاسته راوړنو څخه چې ځینې یادونه کوي، د ډیموکراسۍ او لوېدیځ په خوښه د بشري حقونو اړوند مسایل ستونزمن دي، نړیوالو ته پکار ده چې په افغانستان کې اسلامي او افغاني ارزښتونه له راتلونکي اسلامي نظام سره ومني. د نشه یي توکو قاچاق نه یوازې د ایران لپاره، بلکې د ټولو هېوادونو د امنیت لپاره ګواښ دی او سوله ییز افغانستان نه یوازې د هند، ایران، پاکستان، منځنۍ اسیا، اروپايي ټولنې، روسیې، چین او امریکا؛ بلکې د سیمې او ټولو هیوادونو په ګټه دی.

که څه هم د امریکا- طالبانو د تړون ۵ میاشتې تیرې شوې، او امریکايي پوځیان به تر هغه وخت پورې په بشپړ ډول له افغانستان څخه ونه وځي، څو چې د افغانانو خپلمنځي سیاسي جوړجاړی نه وي شوی، پکار ده چې افغان مشران د خپلو شخصي غوښتنو او ګټو پر ځای د ولس غوښتنو او ملي ګټو ته ترجیح ورکړي او د ۲۰۲۱ ز کال تر اپریل مخکې سیاسي جوړجاړي ته خپلو منځو کې ورسیږي.

د افغان حکومت لخوا د خوشې شویو طالب بندیانو بیا ځل په نښه کول، چاپې پرې وهل او ویشتل، د خلاصېدو پر مهال په کلیو کې د هغوی د هر کلي مراسمو باندې بریدونه، دا ډول په هېواد کې دننه او په ځانګړې توګه کابل کې د سولې غوښتونکو کسانو هدفي وژنې، د سولې پر بهیر ناوړه اغېز درلودلی شي. د بین الافغاني مذاکراتو پر مهال به د امنیتي ادارو، قضاء او اقتصادي ادارو د وېش پر سر هم جنجال او ستونزې وي، ښه به وي چې په دې برخه کې ښکېل اړخونه زغم او انعطاف وکړي.

د سولې مشورتي لویې جرګې دا پرېکړه (۹ ا ګسټ ۲۰۲۰) چې د بین الافغاني خبرو له پیل سره دې سم په ټول هېواد کې اوربند وشي، ډېر عملي نه ښکاري، پکار ده چې د افغان حکومت + افغان سیاستوالو مذاکراتي ډله د یادو مسایلو اړوند ژور فکر وکړي، داسې لاره ورته پیدا کړي چې ښکېلو اړخونو ته د منلو وړ وي. او بالآخره د حکومت لخوا په لوړه کچه پراخ مالي فساد او په ادارو کې ″اختلاس، فساد او اخلاقي فساد″ د سولې مخ کې لویه ننګونه ده.

### پایله

بین الافغاني مذاکرات دې ډېر ژر پیل شي. د حکومت او سیاسي ګوندونو ګډ پلاوي باندې دې توافق وشي او د بین الافغاني مذاکراتو لپاره دې چمتو واوسي. د راتلونکي نظام پر سر دې د ښکېلو لورو لخوا ډېر جنجال نه، بلکې وړ حللاره ورته پیدا او توافق وکړي. اوربند او تلپاتې سولې ته دې زمینه برابره شي. د امریکا/ناټو پوځیانو تر وتلو وړاندې (اپریل ۲۰۲۱) دې ښکېل لوري سیاسي جوړجاړي ته ورسیږي او د دوی تر منځ دې د تلپاتې سولې او په هېواد کې د راتلونکي نظام تړون لاسلیک شي. ولسونو او نړیوالو ته پکار ده چې په افغانستان کې د لوړ پوړو دولتي کارکوونکو لخوا د مالي فساد مخنیوي کې له جدیت څخه کار واخلي.

## خلیلزاد: د سولې بهیر دې ګړندی او بین الافغاني خبرې پیل شي

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد وایي، د سولې بهیر دې ګړندی او بین الافغاني خبرې پیل شي.

نوموړي د افغان حکومت د سولې مذاکراتي ټیم پر غړې فوزیه کوفي باندې وسله وال برید هم غندلی دی. خلیلزاد پر کوفي وسله وال برید د هغو کسانو کار بللی چې په وینا یې موخه یې د افغان سولې بهیر ځنډول او ګډوډي ده.

خلیلزاد په دې اړه پر خپل ټوېټر لیکلي: «زه پر ټولو اړخونو چې د سولې په لټه کې دي، غږ کوم چې نه یوازې دغه برید وغندي، بلکې د سولې پروسه ګړندۍ کړي او بین الافغاني خبرې پیل کړي.»

دا په داسې حال کې ده چې له طالبانو سره د افغان حکومت د مذاکراتي ټیم غړې فوزیه کوفي د تېرې جمعې په ورځ د کابل - پروان لویه لار د کابل ولایت قرباغ ولسوالۍ کې د ناڅرګندو کسانو په برید کې برسېرنه ټپي شوې ده.

خلیلزاد داسې مهال دا څرګندونې کوي چې د ۴۰۰ جنجالي طالب بندیانو د خلاصېدو د بهیر تر پیلېدو وروسته د بین الافغاني خبرو پیلېدو هیلې زیاتې شوې دي. افغان حکومت تر دې مهاله د یادو طالب بندیانو له ډلې څخه د ۸۰ تنو د ازادولو خبر ورکړی دی.

د افغان حکومت یوې سرچینې تر دې مخکې امریکا غږ ته ویلي وو چې بین الافغاني مذاکرات به د روانې اګست میاشتې پر ۱٦مه په دوحه کې پیل شي، خو لا معلومه نه ده چې دغه مذاکرات به کله پیل شي، خو یوې حکومتي سرچینې د نوم نه خپرېدو په شرط ویلي چې دغه مذاکرات چې ټاکل شوې وه پرون (یکشنبه) د اګست پر ۱٦مه پیل شوي وای، ځنډېدلي دي.

د یادو مذاکراتو ځنډېدو یو اصلي لامل د ۴۰۰ طالب بندیانو خلاصېدو بهیر کې د ځنډ رامنځته کېدل بلل کیږي. په ورته وخت کې طالبانو هم روانه میاشت امریکا غږ ته ویلي چې د خپلو پاتې بندیانو تر خلاصېدو وروسته په یوه اونۍ کې بین الافغاني خبرو ته چمتو کېدای شي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د زمري ۲۷مه | د ۲۰۲۰ د اګسټ ۱۷مه | ۵۸۲یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | ۳۷ | ۳٦ | ۳۷ | ۳۷ | ۳۲ |
| ۲۲ | ۲۱ | ۲۰ | ۱۹ | ۲۲ | ۲۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۴۶ | لمر ختل ۰۵:۱۶ | ماسپښین ۱۱:۵۸ | مازیګر ۰۳:۴۰ | ماښام ۰٦:۳۹ | ماخوستن ۰۸:۱۰

## نړۍ



## ټرمپ: راتلونکې اونۍ به پر ایران د بندیزونو د لګولو په تړاو نوي اقدامات وکړو

۳

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر ۷۷۰ زرو ته ورسېد

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۲۱ میلیونه او ٦۴۸ زره او ۴۴۳ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله په ټوله نړۍ کې تر اوسه نږدې ۷۷۰ زره کسان مړه شوي او له ۱۴ میلیونو زیات تري ببرته رغېدلي دي.

د تازه شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له مخې، د نړۍ مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د یاد ویروس د مثبتو پېښو شمېر پنځو میلیونو او ۵۳۱ زره او ۳۰۹ ته رسېدلی، دغه راز ۱۷۲ زره او ٦۳۰ امریکایان د دغه ویروس له کبله مړه شوي دي.

تر امریکا وروسته برازیل د درې میلیونه او ۳۱۷ زره او ۸۳۲ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دویم، هند د دوو میلیونو او شپږ شپږ سوه زره او ١٦۴ مثبتو پېښو له اړخه دریېم، روسیه د ۹۲۲ زره او ۸۵۳ مثبتو پېښو په درلودو سره څلورم او جنوبي افریقا د ۵۸۳ زره او ٦۵۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېوادونه دي چې د کرونا ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.

## اتمر: به هدف شایسته سالاری دستگاه دیپلوماسی کشور غیر سیاسی می شود




یادداشت تفاهم میان وزارت امور خارجه و کمیسیون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی به هدف شایسته سالاری و غیر سیاسی ساختن دستگاه دیپلوماسی کشور به امضا رسید.

در خبرنامه ای مطبوعاتی وزارت امور خارجه آمده است، این تفاهمنامه توسط محمد حنیف اتمر سرپرست وزارت خارجه و احمد نادر نادری رئیس کمیسیون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی، با حضور داشت میرویس ناب معین همکاری های اقتصادی، نجیب الله امین رئیس بورد تعینات، روئسای وزارت امور خارجه و کمیسیون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی در مقر این وزارت امضا شد.


سرپرست وزارت امور خارجه ، امضای این تفاهمنامه را یک گام مهم در راستای شایسته سالاری و غیر سیاسی ساختن دستگاه دپلوماسی کشور دانست.

موصوف این دستآورد را به روئسا و همکاران وزارت امور خارجه و هیئت رهبری و کمیشنران کمیسیون اصلاحات اداری و خدمات ملکی کشور تبریک گفت.

اتمر با اشاره به یادداشت تفاهم، در مورد روش های ورود کارمندان جدید و تعینات در پست های داخلی و خارجی وزارت امور خارجه به اساس امتحان رقابتی و راهکارهای مربوط به آن، به رسانه و اشتراک کننده گان معلومات مفصل ارائه کرد.

نادر نادری رئیس کمیسیون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی ضمن صحبت در مورد اصلاحات و اهمیت آن در ادارات دولتی، بر لزوم مسلکی سازی دستگاه سیاست خارجی نیز صحبت کرد.


## د بېلاروس ولسمشر په دغه هېواد کې د کړکېچ د کابو کولو لپاره له پوتین د مرستې غوښتنه کړې



په داسې حال کې چې په بېلاروس کې لاهم پراخ لاریونونه روان دي، د دغه هېواد ولسمشر الکساندر لوکاشینکو د روسیې له ولسمشر ولادیمیر پوتین نه د لاریونونو د ارامولو لپاره د مرستې غوښتنې ده. په ورته وخت کې په سلواکیا کې د بېلاروس سفیر ایګور لیشچینیا هم په یوه ویډیویي پیغام کې له لاریونوالو خپل ملاتړ اعلان کړی دی. هغه ویلي: «زه د هغو سره ولاړ یم چې د بېلاروس په ښارونو کې د سوله ییزو لاریونونو لپاره راوتلي، د هغوی آواز باید واورېدل شي، د بېلاروس خلکو دغه حق د سربښندنو له لارې ترلاسه کړی دی.» د یاد هېواد خلکو وروسته له هغې په پلازمېنه مېنسک او نورو ښارونو کې پراخ لاریونونه پیل کړل چې د هغه هېواد د ټاکنو کمېسیون الکساندر لوکاشینکو د اګست د نهمې په انتخاباتو کې د ۸۰ سلنه رایو په ترلاسه کولو سره ګټونکی اعلان کړ. لوکاشینکو د ۱۹۹۴ ز کال راهیسې پر دغه هېواد واکمن دی او دا دی اوس د شپږمې دورې لپاره هم د دغه هېواد جمهور رییس شو. بلخوا د حکومت د مخالف ګوند نوماندې سویتلانا تسیخانوسکایا چې ۹.۹ سلنه رایې یې ګټلي، د ټاکنو پایلې نه دي منلي او د پر وړاندې یې اعتراضونه پیل کړي دي. نوموړې پرون په مېنسک ښار کې د «آزادۍ لاریون» اعلان کړی دی. الکساندر لوکاشینکو له ولادیمیر پوتین سره په ټیلیفوني خبرو کې له مسکو مرسته غوښتې او ویلي یې دي چې دغه حالات یوازې بېلاروس ته ګواښ نه دی.


## ژوند

## که غواړی شتمن شی، له منفي فکره کسانو لرې اوسئ



وروستیو څېړنو ښودلې، ۹٦ سلنه هغه خلک چې کاروبار یې پرمختګ نه کوي، ضرور په څنګ کې داسې یو ملګری لري، چې له ژونده شکایت کوي او یا هم د شایعاتو له خپرولو سره مینه لري. خو بریالي خلک بیا له داسې کسانو سره ملګرتیا کوي، چې تل مثبت فکر کوي او الهام ښوونکي وي. هڅه وکړئ چې د همدې ډول الهام ښوونکو او نوښتګرو ملګرو په لټه کې شئ، بیا وګورئ چې ژوند مو څه ډول بدلون کوي. شتمن خلک، تل خپل جېب او راتلونکې ته په پام سره مغازې ته ننوځي. دوی که درې افغانۍ ګټي، دوې یې مصرفوي او یوه یې ذخیره کوي. خو هغه کسان چې یوه یې دوې نه کیږي، اصلي لامل یې دا دی چې له عوایدو یې مصرف ډېر وي او په هېڅ ډول خپلې مالي چارې نه شي مدیریت کولی.

## د سامسُنګ نوی او پرمختللی څیرک موبایل



سامسُنګ کمپنۍ د تېرې ورځې په غونډې کې د خپل قاتېدونکې مخپاڼه لرونکي څیرک موبایل پرمختللې بڼې په اړه له کاروونکو سره معلومات شریک کړل. دا ځل سامسُنګ کمپنۍ د دغه څیرک موبایل ډیزاین کې د پام وړ بدلونونه راوستي او داخلي مخپاڼه یې تر خلاصېدو وروسته د ۷,۳ انچه پر ځای ۷,٦ انچه ده او بهرنۍ مخپاڼه یې هم د تېر کال په پرتله غوره او ستره ده. افشا شوي معلومات ښیي چې ګلکسي فولډ زي۲ کې د کوالکوم کمپنۍ سنپ ډراګن ۸٦۵ پلس ډوله پروسېسر، ۵جي ټکنالوژۍ څخه ملاتړ، ۱۲ ګېګابایټ رم، ۲۵٦ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا او ډاینامک اموليډ ۲ اېکس ډوله مخپاڼه ورکړل شوې. دغه څیرک موبایل له ۱۲۰ هرتز ریفرش ریټ څخه هم ملاتړ کوي. دغه څیرک موبایل شاتنۍ برخې کې درې کامرې لري او دواړو مخپاڼو کې د سېلفي لپاره هم یوه یوه کامره ورکړل شوې ده. له دې سربېره، ۴۵۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري چې ۲۵ واټ چټک چارج او ۱۱ واټ وایرلېس چارج څخه ملاتړ کوي.

## ماستر ډبټ کارت

د عزیزي بانک ماستر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af 1515



عزیزي بانک
Azizi Bank